# د بامیانو فصل په وخت ونه رسید

**Author:** Said Maruf

د بامیانو ولایت اوسیدونکي دی ته اړ دي چی په ژمي کی پر نړیوالو مرستو په زیاتیدونکي کچ اتکا وکړي.

لویدیځوال سازمانونه په دی فکر کی دي چی سږکال د ژمي په موسم کی د بامیانو د اوسیدونکو له پاره د خوړو اضافي زیرمی برابری کړي ځکه داسی ښکاري چی د سږکال فصل به ونه رسیږي.

هغه مهال چی د دوه زره او لومړي کال د دسمبر په میاشت کی دغه ولایت د طالبانو له لاسه ووت ، مرستندویو موسسو ونه شو کولی په دوديز وخت د کرنی له پاره بزګرانو ته تخمي غنم ورکړي. د اپریل میاشت وه چی د Solidarite فرانسوي موسسی غنم توزیع کړل او بزګرانو ونه شو کولی چی د مې تر میاشتی یي وکري.

د کرهنی د ځنډ یو دلیل دا هم وو چی طالبانو په مرکزي بامیان کی چی د وګړو ډیری یي هزاره ګان دي ځاروي په سیستماتیکه توګه له منځه وړي وو او دا د هغو هڅو یوه برخه وه چی په سیمه کی مقاومت له منځه یوسي.

هری یوی کورن یوه جوړه غوایان درلودل او کولی یي شول چی د تخمي غنمو د تر لاسه کولو وروسته هغه وکري ، خو سږکال بزګرانو ډیر وخت په کرایي د غوایانو په نیولو تیر کړ.

خلک اوس ویره لري چی په ټول ولایت کی دا شین فصل به د ژمي تر رارسیدو وړاندی چی د سپټمبر د میاشتی پای دی ثمر ته ونه رسیږي او له منځه به ولاړ شي.

لطف اله چی د Solidarite د موسسی د کرهنی او زراعت د څانګی مشر دی وايي: غنمو ځکه ښه نتیجه نه ده درلودی چی په وخت نه دي کرل شوي . دا باید د بامیانو په ولایت کی د دسمبر په میاشت کی کرل شوي وای او مور ته د اپریل د میاشتی په پای کی راکړل شول.

د هیواد د نورو برخو په شان د بامیانو ولایت ته هم سږکال ډیر کډوال راغلي. د ملګرو ملتونو د کډوال د چارو کمیشنر په دی باور دی چی یوازی د ولایت مرکز ته په زرګونو کورن راستنی شوي دي.

خو په داسی حال کی چی د فصل طمع نه کیږي ، نو د دی له پاره چی دا خلک له لوږی ونه مري نو دوی به هرو مرو پر مرستو متکي وي.

د ژمي د سړو د اغیز د مخنیوي له پاره ملګري ملتونه او نوری موسسی وايي دوی باید د سیمی په بیلا برخو کی ګودامونه جوړ کړي او د هغو د اغیزمنی توزیع له پاره چمتو وي.

شیرزی چی یو افغان اګرونامیست یا خاوره پیژندونکی دی او په سیمه کی کار کوي، په دی باور دی له دغه فصل څخه چی ځنډ کرل شوی لا هم کار اخیستل کیدی شي او ښايي د کروندګرو له پاره ګټور وي. هغه وايي د Solidarite موسسه باید په جوماتونو او چای خانو کی کروندګرو ته ووايي چی لږ تر لږه یوه بله میاشي صبر وکړي. بیا که چیری فصل د شیدو پړاو ته هم رسیدلی وي دوی به د ځارویو له پاره د ډیرو ښو خوړو په توګه له هغو څخه کار واخلي.

د هیواد د جګړی اغیز د زراعتي ژوند په هره برخه کی احساس کیدی شي. همدغه شان د ځارویو له منځه تلل هم په شدیده احساس کیدی شي چی ورسره ورسره طالبانو په سیمه کی د اوبو بندونه هم له منځه یوړل. ځړ ځایونه چی اکثره په دوبي کی به هلته په ملیونونو پسونه او وزی وی اوس د کوچیانو او هزاره ګانو تر منځ د بدو احساساتو له امله همداسی پراته دي ځکه هزاره ګانوپر هغوی شک کوه چی له طالبانو سره نژدی اړیکی لري.

**Location:** افغانستان
**Topic:** Bamyan Special

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/%D8%AF-%D8%A8%D8%A7%D9%85%D9%8A%D8%A7%D9%86%D9%88-%D9%81%D8%B5%D9%84-%D9%BE%D9%87-%D9%88%D8%AE%D8%AA-%D9%88%D9%86%D9%87-%D8%B1%D8%B3%D9%8A%D8%AF